**د افغـــــانستان اســـــلامي امــــارت**

**د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۵/ محرم الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۰ /اسد /۱۴۰۲هـ، ش**

# په اسلام کې د جوماتونو مقام او مرتبه

الحمدلله الذي كان بعباده خبيراً بصيراً، وتبارک الذي جعل في السماء بروجاً وجعل فيها سراجاً و قمراً منيراً ، وهو الذي جعل الليل والنهار خلفةً لمن اراد أن يذكر أو أراد شكوراً، و أشهد آن لآاله الا الله ، و أشهد أن محمداً عبده ورسوله، هدى الله به الانسانية ، و أنار به أفكار البشرية، وزعزع به كيان الوثنية ، و صلى الله عليه و على آله وصحبه تسليما كثيراً ، أما بعد:

د اسلام په سپيځلي دين کې جماتونه لوی او ستر مقام لري. جمات هغه لومړنی مرکز دی چې د اسلام دمقدس دين دعوت ورڅخه پيل شوی دی او په ټوله نړۍ کې خپور شوی دی.

جماتونه په اسلام کې هغه مقدس ځايونه دي چې مسلمانان په کې خپل رب ته پنځه وخته لمونځ اداءکوي او خپل رب ته د تقرب حاصلولو لپاره په کې عبادت کوي، جماتونه د الله تعالی د ذکر او عبادت کولو ځايونه دي. {فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْأَصَالِ. رِجَالٌ لا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالأَبْصَارُ }النور :(۳۶، ۳۷)

ترجمه:- په هغو کورونو (جماتونو) کې الله حکم کړی دی چې پورته دې کړل شي (يعنی آباد دې کړل شي يا دې دمساجدو درناوی وشي) او په دغو کې دې دده نوم يادشئ او په دغو (جماتونو) کې دهغه پاکې بيانوي، د ورځې په شروع کې او د ورځې په آخر کې. (داسې) سړي شته چې د الله له ذکر او لمونځ قائمولو او د زکات اداء کولو نه يې تجارت نه غافله کوي او نه يې(غافله کوي) اخيستل او خرڅول ، دوی له هغې ورځې نه ويريږي چې په هغې کې به زړونه او سترگې اوړې راوړي.

الله جل جلاله د عظمت او اجلال په توگه د جماتونو نسبت ځان ته کړی دی او د هغه چا لپاره يې سخت وعيد ذکر کړی دی چې د جماتونو په خرابولو کې کوښښ کوي.{وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُولَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلاَّ خَائِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ}البقرة: (۱۱۴).

ترجمه:- او له هغه کس نه بل زيات ظالم څوک دی چې د الله جماتونه بندوي (له دې خبرې نه) چې په دغو (جماتونو) کې د هغه (الله) نوم ياد کړی شي او ددغو(جماتونو) په ورانولو کې کوښښ کوي، دغه کسان چې دي ، دوی دا حق نشته چې دی(جماتونو ) ته ننوځي مگر داچې ويريدونکی به وي، ددوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او ددوی لپاره په آخر ت کې ډير لوی عذاب دی.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا} الجن: (۱۸)

ترجمه:- او دا چې يقيناً جماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هيڅوک مه بلئ.

علامه شربينی ددې ايت په تفسير کې وايي:(وإضافة المساجد إلى الله تعالى إضافة تشريف وتكريم).[ تفسير السراج المنير]

ترجمه:- د مساجدو نسبت الله تعالی ته د عزت او درناوی نسبت دی.

الله تعالی د هغه چا په ایمان ګواهي ور کړی ده څوک چې جماتونه جوړوي.{إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللَّهَ}التوبة:(١٨)

ترجمه:- د الله تعالی جماتونه خو یواځې هغه څوک آبادوي (مادي او معنوي) چې پر الله او د آخرت په ورځ یې ایمان راوړی وي او لمونځ قائموي او زکات ورکوي او نه ویریږي غیر له الله نه.

امام قرطبی ددې آیت په تفسیر کې وایي:( دا آیت ددې لپاره دلیل دی چې څوک جماتونه آبادوي د هغه په ایمان باندې شهادت کول درست دی؛ ځکه چې الله تعالی ایمان د مسجد په آبادولو پورې تړلی دی).[ تفسیر القرطبی]

څوک چې جمات جوړ کړي، الله تعالی به ورته په آخرت کې کور جوړ کړي. په یو حدیث شریف کې راځي: (من بنى لله مسجدًا بنى الله له بيتًا في الجنة). متفق علیه

ترجمه:- څوک چې آباد کړي خاص د الله تعالی د رضا لپاره یو مسجد، آباد به کړي الله تعالی ده لره کور په جنت کې.

امام ابن حجر ددې حدیث په شرح کې وایي: په دې حدیث کې دې خبرې ته اشاره ده چې د مسجد آبادوونکی به جنت ته داخلیږي، ځکه په جنت کې د کور آبادولو څخه مقصد په هغه کې اوسیدل دي او د جنت په کور کې اوسیدل هله کیږي چې څوک جنت ته داخل شي).[ فتح الباری]

جماتونه په تیرو شوو ټولو اسلامي امتونو کې لوی مقام او مرتبه درلودله.الله تعالی ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ته امر کړی ؤ.

{ وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُود} البقرة:(١٢٥)

ترجمه:- او مونږ ابراهیم او اسماعیل ته کلک حکم وکړ داچې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاک کړئ.

کله چې نبي علیه السلام د هجرت په وخت کې د قباء مقام ته بنو عمرو بن عوف قبیلې ته ورسید، نبي علیه السلام لومړی د مسجد قباء تهداب کیښود او کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته ورسید، لومړنی هغه کار چې هغه وکړ د نبوي مسجد تهداب یې کیښود او د مسجد په آبادولو کې یې شخصاً په خپلو مبارکو لاسونو برخه واخیسته، چې دا د جماتونو په مقام او مرتبې باندې دلالت کوي.

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المَدِينَةَ فَنَزَلَ أَعْلَى المَدِينَةِ فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، فَأَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً، ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى بَنِي النَّجَّارِ، فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ وَمَلأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ ، وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ، وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الغَنَمِ، وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ المَسْجِدِ). صحیح البخاري

ترجمه:- د انس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي چې نبي علیه السلام مدینې منورې ته راغی، نو د مدینې منورې په عوالي منطقه کې یې واړول په هغه قبیله کې چې بنو عمرو بن عوف ورته ویل کیږي. نبي علیه السلام له دوی سره څوارلس شپې پاتې شو ، بیا نبي علیه السلام بني نجار قبیلې ته سړی واستولو (او هغوی یې راوغوښتل؛ ځکه چې بنی نجار د نبي علیه السلام ماماګان کیدل)، هغوی راغلل په داسې حال کې چې توري یې په غاړو کې وې داسې ماته یاد شي لکه زه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ګورم چې په خپله اوښه باندې سپور ؤ او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورپسې سپور ؤ او د بني نجار قبیلې مشران ورڅخه ګیر چاپیره را تاو ؤ؛ تردې پورې چې نبي علیه السلام د ابو ایوب رضي الله د کور په څنګ کې واړول. نبي علیه السلام دا خوښه ګڼله چې په هغه ځای کې لمونځ وکړي په کوم ځای کې چې د لمانځه وخت ورباندې راشي او د ګډو په پنډغالي کې لمونځ وکړي ، بیا نبي علیه السلام امر وکړ د جمات په جوړولو.

په اسلام کې د جماتونو دومره اهمیت او مقام دی چې نبي علیه السلام فرمایي چې تاسو په کورونو کې هم جمات جوړ کړئ، ترڅو زنانه به په کې لمونځ کوي او کور به د ذکر څخه نه خالي کیږي.

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَّخِذَ الْمَسَاجِدَ فِي دِيَارِنَا وَأَمَرَنَا أَنْ نُنَظِّفَهَا). [مسند أحمد]

ترجمه:- د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کړی دی چې مونږ په کورونو کې جماتونه جوړ کړو او مونږ ته یي امر کړی دی چې هغه پاک وساتو.

جماتونه د الله تعالی لوړ لوړ منارونه او د لوی عزت څخه برخمن دي، جماتونه د عبادت کورونه او د سعادت ځایونه دي، هغه ځایونه دي په کومو ځایونو کې چې خان او فقیر، ځوان او سپین ږیری، لوی او ړوکی، شریف او غریب، عرب او عجم، تور او سپین یو شان برابر حق لري او د ټولو مشترک کور دی، په جماتونو کې هر ډول رتبې، نسبونه او منصبونه متلاشي کیږي.

جماتونه د الله تعالی هغه ستری او قوي قلاګانې دي چې بنده په کې د ټولو فتنو کې څخه په امن کې وي، په جمات کې د ځمکې اوسیدونکي د آسمان له اوسیدونکو (ملائکو) سره ملاقات کوي او په شریکه د خپل رب مناجات کوي، جماتونه هغه ځایونه دي په کوم ځایونو کې چې شیطان زیات خوار او ذلیله وي.

جماتونه هغه خاص ځایونه دي چې په هغه کې کیناستل اجر لري او د لمانځه لپاره په کې انتظار د رباط او سنګر حیثیت لري او په جماعت سره لمونځ په کې اووه ویشت درجې فضیلت لري او په جماتونو کې ملائکې د لمونځ کوونکو دعاګانې الله تعالی ته وړاندې کوي، جماتونه د مسلمانانو هغه ګډ کورونه دي چې ټول په کې د یو مقصد لپاره راټولیږي چې هغه د خپل پروردګار عبادت او پرستش دی.

د جماتونو تقدس او مرتبه له دې نه هم معلومیږي چې جنب سړی او حائضه ښځه، د جنابت او حیض په حالت کې ورته نشي داخلیدلی او مسلمان باید د اودس په حالت کې ورته داخل شي.

جماتونه د ځمکې په سر د الله تعالی کورونه دي، تر ټولو پاک او سپیڅلي ځایونه دي، جماتونه هغه مقدس ځایونه دي چې په کومو ځایونو کې چې د الله تعالی رحمت او ملائکې راښکته کیږي، جماتونه هغه سپیڅلي ځایونه دي په کومو ځایونو کې چې ددنیوي غمونو څخه په کې د زړه سکون حاصلیږي، جماتونه هغه ځایونه دي چې مسلمانان په کې په پنځه وخته لمونځونو کې یو بل سره ویني او یو د بل له احوال څخه خبریږي او په خپلو منځو کې مینه ، محبت، صله رحمي، الفت ، ترحم او مهرباني ګالي او یو بل سره ددین او دنیا په کارونو کې مرسته کوي.

که چیرې مونږ داسلام څلانده تاریخ ته وګورو، وینو چې جماتونه د نور ، روښنایي، علم او بصیرت مرکزونه ؤ. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې جماتونه د لمانځه، اعتکاف او د خطبو مرکزونه ؤ، د نبي علیه السلام په وخت کې او له هغې څخه وروسته په پیړیو پیړیو کې جماتونه د درسونو، دیني مشورو او فیصلو ځایونه ؤ، پیغمبر علیه السلام به په جمات کې وفود منل، نبي علیه السلام به په جمات کې د صلحې او جنګ معاهدات تړل او نبي علیه السلام به په جمات کې د کارونو په اړه تصمیم نیولو او په جمات کې به یي فیصلې کولی، د نبي علیه السلام په وخت کې به په جمات کې غازیانو ته بیرغونه تړل کیدل او هرې خواته به د جهاد لپاره استول کیدل او د سنګر د فاتحینو استقبال به هم په جمات کې کیده.

جمات په اسلام کې هغه عظیمه مدرسه ده په کومه مدرسه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نړۍ تر ټولو غوره خلک صحابه کرام وروزل او په نبوي مدرسو کې روزل شوي په علم، فقاهت، آدب او په عدالت مسلح د حق د لارې مجاهدین سنګرونو ته ولیږل کیدل؛ ترڅو داسلام مقدس دین ددنیا هر کونج ته ورسوي چې ددې مدرسې فارغینو داسلام مقدس دین د نړۍ شرق او غرب ته ورسولو. رسول الله صلی الله علیه وسلم په جمات کې داسې خلک وروزل څوک چې د نړۍ په سر په ټولو انسانانو کې غوره او مثالي خلک ؤ.

په جماتونو کې به خلکو خپل ددين امور زده کول، د خپل رب کتاب به يي يادولو، په جمات کې به د نبوی آحاديثو حلقات دائريدل، په جماتونو کې به خلکو حلال او حرام زده کول، په جماتونو کې خلکو اسلامي اخلاق، دنفس تزکيه، ايثار او فداکاري زده کوله.

عبادله اربعه او د مديني منورې فقهای سبعه د جماتونو څخه فارغ شوي دي. په مدينه منوره کې مسجد نبوي او په مکه مکرمه کې مسجدالحرام د علم زانگو ګاني وې.

جماتونه د فقهې او آحاديثو لوی لوی مرکزونه ؤ، د جماتونو څخه د امام اعظم ابوحنيفه رح، امام ابويوسف رح، امام محمد شيباني رح، امام مالک رح، امام شافعي رح او امام احمد بن حنبل -رحمهم الله جميعا-په څير شخصيات روزل شوي دي او د هغوی فراغت له جماتونو څخه شوی دی.

د ځمکې په سر الله تعالی ته غوره ځايونه جماتونه دي. په حديث شريف کې راځي: (أحب البلاد إلى الله تعالى مساجدها وأبغض البلاد إلى الله أسواقها).صحيح مسلم

ترجمه:- په ټولو ښارونو کې الله تعالی تر ټولو خوښ ځايونه هغه جماتونه دي او په ټولو ښارونو کې الله تعالی ته بد ځايونه هغه بازارونه دي.

د کوم سړي زړه چې په جمات پورې تړلی وي، الله تعالی به ورته په جنت کې ځانګړی ميلمستيا تياره کړي او هغه څوک چې د هغه زړه په مسجد پورې تړلی وي، په آخرت کې به دالله د خصوصي رحمت څخه برخمن وي. په حديث شريف کې راځي: (من غدا إلى المسجد أو راح أعد الله له في الجنة نزلاً كلما غدا أو راح) متفق عليه.

ترجمه:- څوک چې سهار وختي لاړ جمات ته او يا واپس راغی له جمات څخه، تيار به کړي ورته الله تعالی ميلمستيا په جنت کې هرځلې چې جمات ته ځي او يا له جمات څخه واپس راځي.

په يو حديث شريف کې راځي: ( سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ في ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إلاَّ ظِلُّهُ : إمَامٌ عَادِلٌ ، وَشَابٌّ نَشَأ في عِبَادَةِ الله - عز وجل - ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالمَسَاجِدِ...) متفق عليه

ترجمه: اووه کسان دي چې الله تعالی به ورباندې د خپل رحمت سيوری وکړي، په هغه ورځ کې چې بل سيوری به نه وي ، پرته د هغه د سيوري څخه يو عادل بادشاه او بل هغه ځوان چې دالله تعالی په عبادت کولو کې رالوی شي وي او بل هغه سړی چې دهغه زړه په جماتونو پوری تړلی وي.

امام نووي ددې حديث په شرح کې وايي:( ومعناه شديد الحب لها والملازمة للجماعة فيها وليس معناه دوام القعود في المسجد).شرح النووي . ددې حديث معنا داده چې د جماتونو سره يي زيات محبت وي او په جماعت سره د لمانځه په کولو باندې اهتمام کوي ، او په جمات کې په دائمي توګه ناسته ورڅخه مراد نه ده.

نبي عليه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او د هغې په قبر يي لمونځ وکړ، کومې ښځې چې د جمات د نظافت او پاکۍ خيال ساتلو.

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ ، فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَسَأَلَ عَنْهَا بَعْدَ أَيَّامٍ ، فَقِيلَ لَهُ : إِنَّهَا مَاتَتْ ، قَالَ : فَهَلاَّ آذَنْتُمُونِي ، فَأَتَى قَبْرَهَا ، فَصَلَّى عَلَيْهَا). سنن ابن ماجة

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه فرمايي يوه د تور رنګ والا ښځه وه چې هغې به جمات جارو کولو ، نبي عليه السلام هغه ښځه ونه ليدله او څو ورځې وروسته يی د هغې په اړه پوښتنه وکړه.چا ورته وويل چې هغه خو مړه شوی ده، نبي عليه السلام وفرمايل: نو ولی مو ماته خبر نه دی راکړی، بيا نبي عليه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او لمونځ يي ورباندې وکړ.

په اسلام کې د جمات دومره لوی مقام دی چې جمات داسلام نښه ګرځول شوی ده، حتی چې په غزواتو کې به چې کله په کوم کلي کې جمات ؤ او آذان به په کې کيدلو، نبي عليه السلام به وربانديې حمله نه کوله او صحابه کرامو ته به يي هم ددې خبری توصيه کوله.

(کان رسول الله صلى الله عليه وسلم يغير إذا طلع الفجر وكان يستمع الأذان فإن سمع أذانا أمسك وإلا أغار). صحيح مسلم

ترجمه:- نبي عليه السلام به هغه وخت حمله کوله چې کله به سهار شو او هغه به آذان ته غوږ نيولو که چيرې آذان به يي واوريدلو حمله به يی نه کوله او که آذان به يی وانه اوريدلو حمله به يي کوله.

دا حديث د جمات دمقام او مرتبې لپاره دليل دی؛ ځکه جمات د اسلام لپاره بارزه علامه ګرځول شوی ده.

څوک چې جمات ته د لمانځه لپاره ځي، الله تعالی ورته د هر قدم په عوض کې اجر ورکوي او ګناه ورته ښښي او مسجد ته نه تلل، د منافقت علامه ښودل شوی ده.د يو حديث شريف په يوه برخه کې راځي:( وما من رجلٍ يتطهر فيحسن الطهور ثم يعمد إلى مسجد من هذه المساجد إلا كتب الله له بكل خطوةٍ يخطوها حسنةً ويرفعه بها درجةً ويحط عنه بها سيئة ولقد رأيتنا وما يتخلف عنها إلا منافقٌ معلوم النفاق).صحيح مسلم

ترجمه:- داسې سړی نشته چې ځان پاک کړي او په شايسته طريقه پاکوالی راولي بيا د جماتونو څخه کوم جمات ته لاړشي مګر داچې الله تعالی ورته ليکي په هر قدم چې اوچتوي يی يوه نيکي او يوه درجه يي اوچتوي او په دې قدم وهلو سره ورڅخه ګناه رژوي او بيشکه مونږ ليدلي دي او نه وروسته کيږي له دې څخه مګر د معلوم نفاق څښتن.

دا حديث د مسجد په فضيلت او مرتبې ښکاره دلالت کوي.